# شریعت

ورځپانه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۳۵٤ ګڼه / دوشنبه ۲۶ جمادی‌الثانی ۱٤٤۵ هـ.ق / ۱۸ جدی ۱٤۰۲ هـ.ش / ۰۸ جنوری ۲۰۲٤ میلادي


## یک پل مواصلاتی در غزنی به بهره برداری سپرده شد

مسـئولان محلـی در غزنـی، می‌گوینـد که یک پـل مواصلاتی در ایـن ولایـت، بـه ارزش یک میلیـون و ۶۰۰ هـزار افغانـی به بهره‌برداری رسـیده است.این پل در مربوطـات ناحیه‌ی دوم شـهر غزنـی و بر فراز دریـای غزنی، از سوی ریاسـت شـهرداری غزنی ساخته شـده و پس از چاشت روز شـنبه به بهره‌برداری رسیده است. محمدنبی حمزه، شـهردار غزنی، به رسـانه هـا گفت :ایـن پل در عقب «حرم‌سـرای» شـهر غزنی ساخته شـده اسـت و دو نقطه‌ی مزدحم شهر را باهم وصل می‌کند. به گفته‌ی شهردار غزنی، از این پل فقط عابران پیاده و وسایط کوچک نقلیه اسـتفاده می‌توانند.در همین حال، باشـندگان غزنی با استقبال از سـاخت این پـل می‌گویند که روزانه صدها تن از این پل استفاده می‌کننـد و سـهولت بسـیاری را بـرای عابران ایـن سـاحه ایجاد کرده است.

## از اثر توافقنامه افغانستان وایران فیس خاک پولی لغو شد



نشسـت‌های مقدماتی کمیته‌های مشترک تعیین شده میان افغانستان و ایران به هدف ایجاد تسـهیلات گمرگـی و افزایش تجارت میان دو کشور، انجام شـد.دفتر مطبوعاتی معاونیت اقتصادی ریاسـت الوزرا، در خبرنامه‌یی گفته اسـت: طی این نشست‌ها که در گمرکات سرحدی دو کشـور برگـزار شـد، پیرامون انکشاف روابط تجارتی و ترانزیتی افغانستان و ایران و از میان برداشتن مشـکلات موجود در این راستا، به اساس توافقنامه‌های گذشته صحبت شده اسـت.افزایش معیاد کار از ۸ ساعت به ١٦ سـاعت در گمرکات اسلام قلعه، ابونصر فراهی ۵مخ

### مولوی‌عبدالکبیر:

## نیاز است جوانان انرژی خود را در کسب افتخارات به کار گیرند



مولوی عبدالکبیر، معاون سیاسـی ریاست الوزرا گفته است: نیاز است جوانان انـرژی خـود را در آبادی کشور، بدسـت آوردن افتخارات و فعالیت‌های مثبت به کار گیرند. دفتر مطبوعاتی ایـن معاونیت، در خبرنامه‌یی نوشـته است که مولوی عبدالکبیرایـن گفته هـا را هنگام دیدار با تیـم قهرمان مرحله پنجم مسـابقات ملی بزکشی بیان داشته اسـت.در خبرنامه به نقل از مولوی عبدالکبیر آمده است ص۵

## تاکید والی سرپل برحراست ازتاسیسات نفتی



والی سـرپل هنـگام بازدید از بـلاک نفت انگـوت ، بر حفاظـت و حراسـت از این معدن تأکید کرد.

در این دیـدار، محمد یعقوب "عبدالرحمن اکه" والی سرپل روی حفظ و نگهداشـت این سـرمایه ملی بـرای موظفین امنیتی و انجنیران هدایت لازم را داد.والی سـرپل گفت: این یک سـرمایه مردم افغانستان اسـت، باید در قسمت حفظ و نگهداشـت آن توجه جدی صورت گرفتـه تا ازآن جهت منافع شـخصی استفاده نشود. در همیـن حال، مسـؤولان شرکت افغان چین از همکاری مسوولان محلی ۵مخ

## سفر شماری مقام های ارشد امارت اسلامی به بدخشان




شـماری ازمقامـات امـارت اسلامی به بدخشـان رفتند تا روند مبارزه با کشـت، تولید، فروش وقاچاق مـواد مخدر را در این ولایت را بررسـی کنند.ایـن هیئت متشـکل از قـاری فصیح الدیـن فطرت لوی درستیز کشـور، مولوی عبدالحـق معـاون وزارت اموراداخله ، مولوی شـمس الدین شـریعتی رییس عمومی نظـارت بـه تعقیـب احکام وفرامیـن، مولـوی سـیف الرحمـن تایب معـاون اداره امور، مولـوی عبدالغنی فایق معین وزارت عدلیه ص۵

## میدان وردګوزرګونو کورنیو ته کاري زمینه پرابره شوې

د میـدان وردګـو ولایـت دکرنـې، اوبولګولو او مالداری ریاست د ملګرو ملتونو دخوړو او کرنې اداري په مالي او د افغانستان راتلونکو نسلونو مؤسسې په تخنیکي همکاری په دې ولایت کې د بېلابېلو پروژو په پلي کولو سره زرګونو کورنیـو ته د کار زمینـه برابره کړې. د میدان وردګو ولایت دکرنې، اوبولګولو او مالـداری ریاسـت د چارواکو په خبره په دغو پـروژو کې د چکډمونو، ترنچونو، حوضونو او کانالونو جوړول شـامل دي، چې په ترڅ کې یې ددې ولایت ۱۰۰۸۰ کسـانو ته دکار زمینه برابره شـوې وه.ددغو مرستو موخه د موسـمي اوبو مدیریـت، د ځمکې لاندې او پیاوړتیا او په ټوله کې خلکو ته دکار زمینه برابرول دي.

## د ننګرهار د ترکاڼۍ فابریکې امکانات پراخېږي



د ننګرهـار کانـال شـرکت رییس مولوی غلا الرحمـن کظیم وایي، چې د ننګرهار کانال شرکت اړوند ترکاڼۍ فابریکـه کې د جوړېدونکو اجناسـو مینه وال ډېر شوي دي او بازار یـې هم تـود دی، په همدې موخـه ددې فابریکـې ارتیاوې او امکانات پراخېږي او سـتونزې یې هم هوارېږي. ښاغلی کظیم وویل، چې د ننګرهار کانال شـرکت د ترکاڼـۍ فابریکې جوړېدونکـو توکـو د پیر-پلور په پار د جلال آباد په ښـار کې د پلور ځانګه جوړېږي، چې په کې د دې شـرکت د ترکاڼۍ فابریکې اړونده توکي لکه میز، چوکۍ ۵مخ


د بهرنۍ پانګونې ګټې او راجلبونه ۲ مخ

د اسلام اتل علي رضي الله عنه ۲ مخ


عمر بن عبدالعزیز او د «خوب» تحقیق ٤ مخ


### سرمقاله

## د سیندونو اوبارانونو د اوبو را ایسارولو ته پاملرنه پکارده

اوبه چې څښتن تعالی یې د ځمکې ښېرازي او د ټولو ساکښـو د ژوند ذریعه بولي، پرته له څـه محنته موږ ته له اسمانه راتوییږي، خو موږ لاس نه ور وړو، غرض نه پرې لـرو او دومره مخـه ورکوو چې ان زموږ پټـي، باغونه او ځنګلونه هم په شـاکړي نورو خلکوته وروړي، په داسـې حـال کې چې زموږ هر فرد ته اوبـه په کار، بلکې لا ژوند مـو پرې ولاړ دی خـو نه له سـیندونو او خوړونو فقط د ځمکـې له ګېډې او لړمانه یې را زېښـو او خپل وربوی، مېنه اوسـیمه پرې زرغونوو. خو که همداسـې ګام پرګام زموږ برمې او د ځمکې همدا سـوری سوری ټټروي، اخر پای به د دې صبرناکې ځمکـې زړه او لړمون وچ او طبعاً پاسـنۍ پوټکی به یې هم مړي! ښـایي زموږ د ځمکې تل کـې نور څه نه وي پاتې او د عقل او تجربې له مخې غالباً لنډه موده کې هغه ورځ را ورسـیږي چې برمې مو یوازې د ماشـومانو قبرونه، د شمسیو تختې مو د خونو چتونه او کروندې او باغونه مو یوازې د نغرې او تناره خوراک شي. بیا نو د افریقایانو په څېر خپل سپېره ملک کې د «واتیکان» بسـکټوته سترګې په لار اوسـئ! ګورئ دا د تالې کتونکو تکراري منترې نـه دي، دا د علم، عقل، نقل او تجربې پر اساس ثابت شـوي حقایق او هغه الهی تکویني سنن دي چې هیڅوک یې بدلونکی نشته. هماغه مالک ټینګار کوي چې که څوک خپل حالت سمول غواړي نو خپل عمل کې دې بدلون راولي ځکه هر څوک به یقیناً ۵مخ

## تخار کې د ۶ میلیونه افغانیو په لګښت مسجد جوړ شو



د تخار ولایت د ملي راډیو ټلویزیون په حواله باختر اژانس ته رارسېدلي معلومات ښیي، چې د دغه ولایت د پخواني والي مولوي نورالدین عمیر په نوښت د دغه ولایت په بهارک ولسوالۍ کې یو باب مسجد جوړ او د عبادت کوونکو پر مخ خلاص شو.د معلوماتو له مخې دغه مسجد پر ۴۰۰ ۵مخ

## نصاب تحصیلی ۲۲ رشته نهاد های تحصیلات عالی بازنگری می شود

نشسـت بـه منظـور بازنگری و انکشـاف نصاب های تحصیلی برنامـه هـای فوق لیسـانس ۲۲ رشته انجنیری و زراعت نهاد های تحصیلات‌عالی کشوربرگزارشد. به گـزارش آژانس باخـتر؛ در این نشسـت مفتی عبدالروف فراهی رییس نصاب تحصیلـی وزارت تحصیلات عالی، از آن اسـتادان که موظـف به بازنگـری نصاب تحصیلی در رشته های یاد شده اند خواسـت که با دقت و مسوولیت پذیری کار کنند.او همچنان گفت که نصاب های تکمیل شده در آینده های نزدیک در اختیار پوهنتون های کشور قرار داده خواهد شد.

## بغلان کې د ۵۶ معتادینو درملنه وشوه

د بغـلان د نشـه یـي توکو پر وادانـدې د مبـارزې مدیریـت مسـوولین وایـي چې پـه دغه ولایت کې یې په نشـه یي توکو د روږدو کسـانو د درملنـې پر دوام، ۵٦ نور روږدي کسان له درملنې وروسـته رخصت کړي دي.د یاد ولایت د نشه یي توکو پر وړانـدې د مبارزې مدیر ملا محمد نبي کامران باختر آژانس ته وویل چې دغه روږدي کسان پخوا د پلخمرې ښار له بېلابېلو سـیمو څخه راټول او د درملنې کمپونو ته معرفي ۵مخ

### وزارت ترانسپورت:

## روند توزیع اسناد ترانسپورتی سرعت می‌یابد

وزارت ترانسـپورت از تسـریع رونـد توزیع اسـناد ترانسـپورتی برای وسـایط نقلیه خبر داد.دفتر مطبوعاتـی ایـن وزارت امروز با نشـر خبـر گفته است: نشسـت به ریاست مـلا عبدالسـلام حیدری، معین ترانسـپورت جاده‌ای وزارت ترانسـپورت و هوانـوردی بـا اشـتراک شـماری از رییسـان این وزارت به‌منظـور تسـریع رونـد توزیـع اسـناد ترانسـپورتی برای وسایط نقلیـه برگزار شـد.در این نشست در باره ساده سازی و تسریع روند توزیع کارت الکترونیکی و کتابچه تعین مسیر حرکت وسایط نقلیه، کنترول سـرعت وسـایط کلان و برخـی موضوعات دیگر بحث صورت گرفت و تصامیم لازم اتخاذ شد.

# جهادي خاطرې

## وسلې او مهمات!

مولوي حيات الله مهاجر فراهي

دصليبيي اتحاد پر وړاندې د افغان مجاهد ولس وسله وال جهاد له راز راز ستونزو سره مل و، ديوه پياوړي، مجهز، پرمختللي او نړيوال ځواک سره مبارزه، پراخ امکانات ، ښې وسلې اوقوي اقتصاد غواړي، خو افغانانو داهرڅه په توکل محض او پرالله تعالی باندې پر قوي باور پيل کړل.

ددې جګړې لپاره له هرڅه وړاندې د وسلو اومهماتو برابرول اړين وو، داچې موږ څه ډول اوله کومو لارو داجنګي وسايل برابرول په لاندې ځوکرښو کې به يې درته روښانه کړو.

څرګنده ده چې په هېوادکې روسي وسلې ښه په پرېمانه توګه موندل کېدې، په لومړيو وختونوکې يې قيمتونه ډېرټيټ هم وو. طبعاً دافغانانو له دود سره سم هرچا په خپل کور کې وسله لرله همدا شان يې په خپل قيمت پېرله او يا به يې کوم شتمن ورور ته ويل چې هغه به ورته نغدې روپۍ ورکولې اوبيا به يې په همدې روپيو وسلې رانيولې همدا راز له چا سره به يې چې شتون درلود، مجاهد ته به يې مجاني او دامانت په ډول ورکوله.

ترډېره وخته همدا کلاشينکوف ،ثقيل او راکټ په جګړه کې کاريدل ځکه جګړه ترډېره چريکي او دخرپ او ترپ وه، چې همدا خفيفه اوسپکه وسله په سراچه ډوله موتروکې په ډېر آسانۍ لېږدول کېده. وروسته بيا امريکايانو ددې لپاره چې تريووخت پورې اردو اوپوليس ښه وروزي اکمالاتي کاروانونه يې په شخصي توګه انتقالول، خلک به يې ورته استخدامول اوساتونکو ته يې سيکوريټي ويل چې دا سکورټي کاروانونه به دهرات لخوا کندهار اوهلمند ته تلل، مجاهدين به ورته په کمين کې ناست او هرځل به يې په لسګونو موټر اوټانکرونه ترې ونيول او سوځول ددې په څنګ کې به يې ترې پرېمانه مهمات او وسلو په غنيمت کې رانيولې.

دمجاهدينو قوي کېدا سره ورو ورو دغټو اسلحو ګرځول هم دود شول لکه هشتاددو، هاوان او زيکويک چې داهم ترډېره مجاهدينو په قيمت پېرل په لومړيو کې مرمۍ اومهمات ترډېره ولسي خلکو چې کابو په هرکور کې به ساتلي ومجاهدينو ته په وړيا او په بلاعوضه توګه ورکول.

ددښمن پر خلاف زموږ له ټولو کارنده اواغېزمنه وسله چې پرغليمانو يې خواره خوبونه حرام کړي و هغه دسړک غاړې ماينونه وو چې مصارف يې ډېرکم اوتلفات يې زيات و. مجاهدينو به ماينونه په ډېر ساده شکلپه خپلو سيمو کې جوړول مواد يې يو ډول تجارتي سره بوره او موبلاين و.

همدا ډول يوه بله نسخه چې شاوخوا لس ډوله توکي په کې شامل وو او ټول مواد يې په بازارکې په عامه توګه پلورل کېدل هم مجاهدينو تر لاسه کړل.

پټاکۍ، لاينونه اونور دارتياوړتوکي هم په ډېرو دکانوکې موندل کېدل . څه موده وروسته چې له بهرنيو سره مخامخ اولاس په لستونې جګړې زياتې شوې مجاهدين وتوانېدل چې برېتانوي، کاناډايي اوامريکايي وسلو ، ليزرونو اوشپني دوربينونو ته لاس رسی پيدا کړي چې دې وسايلو دجګړې په عملي ډګر کې دمجاهدينو برلاسيتوب ته لاره هواره کړه.

داسلامي امارت مجاهدينو هغه وخت دجګړې د ډګر ابتکار په خپل لاس کې واخيست چې په نړيوال تور بازار کې يې دشپې ليزرونو ته لاره وموندله ! داليزرونه روس، چين اونورو هېوادونو جوړ کړي وو چې مجاهدينو به په روپيو رانيول په لومړيو وختونوکې يې قيمتونه زيات وو خو بيا کرار کرار ارزان هم په کې پيدا شول.

مجاهدينو به ډېره هڅه کوله چې اقلاً پرډلګۍ او ګروپ يو (لروين) ولري ددې لپاره به يې حتی خپلې وسلې اوموټرخرڅول ځکه پرته له شپني ليزره پرپوستو ،بيسونو او قرارګاوو جګړه ناشونې وه. يوه خبره چې زما پام يې له وخته ځانته اړولی و دا وه چې دامريکايي اشغال په وړاندې دجهاد کابو ډېره برخه وسلو دغنيمت ، بسپنو او شخصي وګړو ملکيت و، هغه تعداد خلکو چې له وړاندې وختونو ورته د وسلو ډېپوګان پاتې شوي وو هغوی په خپله ياپه جهاد کې ډېره کمه ونډه لرله اويا يې له هغو ذخيره شويو وسلوکارنه اخيست، بلکې ډېر داسې موارد وو چې هغوی پرمجاهدينو وسلو اومهمات په نغدو روپيو پلورل.

زه دفراه په سطحه ويلای شم چې دوه ځلې د امارت نظامي مشرتابه لخوا څو محدودې وسلې همکاري ورسره وشوه هغه هم په داسې توګه چې ټولو ډلګيو ته پکې يو ميل ونه رسيد، شخصاً زموږ ډلګۍ ته په شکل کلنه موده کې دوه ميله سلاح راکړل شوه يو ځل يو شل ډزی او دويم وار يو کلاشينکوف چې نور ټول وسايط اووسلې موخپله د خلکو په بسپنو او غنيمت له لارې پيدا کړي.

# د بهرنۍ پانګونې ګټې او را جلبونه

نصير کوټوال

د يوې ټولنې او يا هم يو هېواد اقتصاد په پانګونې ولاړ وي، ځکه د همدغه پانګونې په ترڅ کې توليد رامنځ ته کېږي او توليد بيا هغه څه دي چې د وګړو ډېرې منډې تړړې او فعاليتونه د اقتصادي تحرک په موخه سره را يو ځای کوي. څوک مستقيماً د توليد په پروسه کې نيغ په نيغه دخيل وي، څوک ورته خام مواد برابروي، د چا دنده بازار موندنه وي او څوک څه او څوک څه کوي. دا ټول هغه څه دي چې له پانګونې سرچينه اخلي، ځکه خو بايد د اقتصادي نظام د تحرک په موخه پانګونه تشويق، حمايه او وهڅول شي.

ټول وروسته پاتې يا پرمختيايي هېوادونه ځکه د فقر د بدمرغه دايرې يا کرښې لاندې پراته دي، چې هلته پانګونه نشته او يا هم په داسې هېوادونو کې د پانګونې کچه ډېره ټيټه ده. پوښتنه پيدا کېږي چې دلته د پانګونې د نه شتون او يا کموالي لامل څه دی؟ په ځواب کې يې بايد ووايو، چې اصلاً په نومړو هېوادونو کې د پانګې راټوليدنه يا جوړښت Capital Formation or accumulation ډېر کم او په نشت حساب وي، د وګړو عايد کم او لګښتونه يې زيات وي، ځکه خو يې په واک کې د پانګونې لپاره کافي پانګه او سرمايه نه وي.

د پانګې راټولېدنې او جوړښت بېلابېلې لارې چارې شته چې لاندې ترې يادونه کوو. تاسو د نورو په اړه تحقيق وکړئ، موږ يوازې د وروستي ميتود يا بهرنۍ پانګونې چې زموږ د بحث موضوع هم ده څېړلو او راسپړلو ته تم کېږو.

پس انداز:

ماليات:

دولتي پورونه:

د بېکاره منابعو په کار اچول:

د بوديجې د کسر پانګونه:

بهرنۍ مرستې:

په وارداتو محدوديتونه:

د صادراتو تشويق او زياتونه:

دغير توليدي لګښتونو راکمول:

د روزګار د فرصتونو برابرول:

بهرنۍ پانګونه:

نن سبا ډېرو پرمختيايي هېوادونو د بهرنيو پانګوالو پر مخ خپلې دروازې پرانيستې دي. هغوی دا کار د پانګې د جوړښت او د هېواد د ننه د پانګونې د کچې د ډېروالي په موخه کوي. دغه بهرنۍ پانګونه چې د مستقيمې يا نيغ په نيغه بهرنۍ پانګونې Foreign Direct Investment (FDI) نوم ورته ورکول کېږي په اوسني وخت کې د هېوادونو ترمنځ د اقتصادي نږدېوالي او په ټوله کې د نړيوالتوب يا ګلوبلايزيشن زېږنده او ځانګړنه ده.

پرمختيايي هېوادونه د اقتصادي ودې په موخه بهرنۍ پانګونې ته اجازه ورکوي او يا هغه را جلبوي ځکه ډېره پانګونه د اقتصادي غوړېدا په مانا ده او دا چې د پرمختيايي هېوادونو په کور دننه پانګه کمه ده او يا هم د چټکې اقتصادي ودې لپاره بسنه نه کوي ځکه بايد د دياد هدف د لاس ته راوړلو لپاره له بهرنۍ پانګونې څخه ګټه واخيستل شي. بهرنۍ پانګونه د يو هېواد په اقتصادي وده کې مرسته کوي، بهرنۍ پانګه په کوربه هېواد کې د روزګار فرصتونه رامنځ ته کوي، هلته نوې ټيکنالوجي او مسلکي بشري قوه لېږدوي، په اقتصادي انضمام کې مرسته کوي، د کارګرو مولديت زياتوي او داسې نورې ګڼې ګټې لري، خو د دې ټولو ښېګڼو تر څنګ بهرنۍ پانګونه په کوربه هېواد ځينې منفي او بدې اغيزې هم غورځوي.

افغانستان هم د پرمختيايي هېوادونو په لړ کې راځي چې تازه د اقتصادي ودې او پرمختګ بهير ته داخل شوی. د پرمختيايي هېوادونو د ځانګړنو پر اساس موږ هم د پانګې له کمبود سره مخ يو ځکه خو بايد د نورو پرمختيايي هېوادونو او يا پرمختللو هېوادونو له تجربو ګټه واخلو او د خپلې اقتصادي ودې، پرمختګ او هوساينې لپاره هغه ټولې لارې چارې په کار واچوو، چې زموږ د اقتصادي پرمختګ سره مرسته کوي. لکه مخکې مو چې ياده کړه د دغه لارو چارو څخه يوه هم بهرنۍ پانګونه ده، راځئ خبره به يو څه له تخنيکي اړخه روښانه کړو، پوهېږو چې د يو ملي اقتصاد مجموعي تقاضا د مصرف، پانګونې، دولتي لګښتونو او خالصې بهرنۍ سوداګرۍ مجموعه يا ټولګه ده يعنې:

$$AD = C + I + G + (X - M$$

په دې هم پوهېږو چې د تقاضا ډېروالی د يو اقتصاد په پرمختګ او غوړېدا کې کليدي رول لري ځکه تقاضا د توليد د ډېرښت لامل کېږي او د توليد ډېرښت بيا هم لکه چې يادونه مو ترې کړې د اقتصادي تحرک لامل کېږي. اوس نو د دې لپاره چې اقتصادي پرمختګ ته لاره هواره شي بايد مجموعي تقاضا لوړه شي. په پورته رابطه کې ګورو چې پانګونه هم د مجموعي تقاضا يوه برخه ده او د پانګونې په ډېروالي سره په مجموعي تقاضا کې ډېروالی راځي ځکه خو بايد له هرې لارې نه وي پانګونه تشويق شي.د مجموعي تقاضا د پانګونې برخه بيا په ټوله کې په دوو برخو کورنۍ او بهرنۍ پانګونې وېشل شوې. کورنۍ پانګونه د اقتصادي ودې لپاره ډېره ګټوره ده، خو دا چې پرمختيايي هېوادونه د کم پس انداز يا saving له امله نه شي کولای د پانګونې ټول فرصتونه ډک کړي ځکه خو د اړتيا پر بنسټ پرمختيايي هېوادونو ته د بهرنۍ پانګونې بهير راماتېږي، د اقتصادي ودې او پرمختګ په موخه نومړې بهير بايد لا ګړندی، مطلوبه او اغېزمنه ګټه ترې واخيستل شي.

پانګه لرونکي ولې په نورو هېوادونو کې پانګونه کوي؟

بهرنۍ مستقيمه پانګونه هغه پانګونه ده، چې د يو بهرني هېواد د وګړو او يا کمپنيو د پانګې په وسيله په يو بل هېواد کې تر سره کېږي داسې چې په کوربه هېواد کې يوه نوې کمپنۍ پرانېزي او يا هم د يوې شته کمپنۍ فعاليتونو ته پراختيا ورکوي او په هغه پانګونه کوي. اوس پوښتنه دا ده چې کمپنۍ او يا پانګوال ولې نورو هېوادونو ته مخه کوي؟ ولې په خپله سيمه کې پانګونه نه کوي؟.

د دغه سوال په ځواب کې په لاندې توګه د هغه عواملو څخه يادونه کوو چې له مخې يې پانګوال له هېواده بهر پانګونې ته مخه کوي.

د دې لپاره چې بهرنۍ پانګونه را جلب کړو بايد لاندې ټکو ته پام وکړو او د هغوی د غښتلي کولو لپاره لازم تدابير ونيسو:

لومړی - اقتصادي ثبات: اقتصادي ثبات هغه څه دي چې پانګه اچوونکی يې تر هر څه لومړی په نظر کې نيسي دا ځکه چې اقتصادي ثبات د پانګونې د راټلونکو زيانونو مخه نيسي. د بېلګې په ډول په کومو هېوادونو کې چې د انفلاسيون نرخ يا کچه په يو ثابت تناسب روانه وي هلته پانګه اچوونکې د خپلو راتلونو لګښتونو اټکل په ښه توګه کولی شي، خو چېرته چې اقتصادي بې ثباتي او هرج او مرج وي، نو پانګوال به هېڅکله هلته د پانګونې لپاره زړه ښه نه کړي. د دې لپاره چې بهرنۍ پانګونه را جلب شي هېوادونه بايد د سوداګريزو او اقتصادي کړنو لپاره له ثباته ډک چاپېريال رامنځ ته کړي.

دوهم - ټيټ ماليات: د مالياتو کچه هم په بهرنۍ پانګونه کې ډېر اهميت لري. هلته چې د مالياتو کچه لوړه وي پانګوال سرمايه ګذاري نه کوي ځکه د هغوی د ګټې يوه لويه برخه د مالياتو په شکل د دولت لاس ته لوېږي. له بله اړخه نومړي ماليات لګښتونه دي چې پانګه اچوونکی يې د لوړو قيمتونو له لارې مشتريانو ته لېږدوي او دا کار په خپل وار سره د قيمتونو د عمومي کچې د لوړوالي لامل کېږي، ځکه خو د ټيټو مالياتو لرونکي هېوادونه د پانګونې لپاره ډېر مساعد دي.

دريېم - مسلکي او روزل شوی کاري ځواک: کله چې د يو هېواد کارګر ځواک غير مسلکي او د اړتيا وړ مهارت لرونکی نه وي، نو هلته د پانګه اچوونکو د پانګې يوه د پام وړ برخه د کارګرو په روزلو او ټرينګ لګول کېږي، چې د پانګونې د ګټې د کموالي لامل کېږي. له بله اړخه د کارګرو د کم مهارت له امله د مولديت اندازه کمه وي چې له امله يې بيا هم د کاروبار ګټورتوب اغېزمنېږي، خو که د يو هېواد کاري ځواک تر يو بريده مسلکي او د اړتيا وړ مهارت لرونکی وي هلته پانګه وال د خپل کاروبار ګټورتوبويني او بې له زړه نا زړه توبه پانګې اچونې ته ورداننګي.

څلورم-د مزدونو له ټولو کمه کچه (حد اقل مزدونه):

ځينې هېوادونه د کارګرو لپاره حد اقل مزد ټاکي چې شرکتونه يا کاروباري واحدونه خپلو کارګرانو ته د دغه ټاکلې اندازې څخه کم مزد نه شي ورکولی. په دې کار سره د توليد لګښتونه لوړېږي ځکه خو اړتيا پېښېږي چې يو لړ کارګران له دندو ګوښه کړل شي او له دې لارې توليدوونکي د خپل توليد لګښتونه راکم او ګټورتوب زيات کړي. له بله اړخه مولدين مجبور دي پرته له دې چې د کارګرو مولديت په پام کې ونيسي هغوی ته د دولت له لوري حد اقل ټاکل شوي مزدونه ورکړي چې دا چاره په خپل وار سره د کاروبار ټوليز ګټورت ګواښي او راکموي، ځکه خو په مزد کې د دولت نه مداخله بهرني پانګوال پانګونې ته تشويق او هڅوي او د بهرنۍ پانګې د تشويق په پار بايد په دې اړوند لازم تصاميم ونيول شي.

پنځم - ځينې قانوني محدوديتونه: ټول هېوادونه د خپلو دولتي، ټولنيزو او اقتصادي چارو د سمبالښت په موخه بېلابېل مقررات او قوانين پلي کوي. ځينې له دغو مقرراتو ډېر وخت د يو هېواد لپاره چندان ګټور نه وي. که پر مولدينو او کاروبار ځينې مقررات په نظر کې ونيسو، نو ښکاره ده چې د دغه مقرراتو څخه ډېر يې د توليد لګښت زياتوي او په دې هم پوهېږو چې د توليد د لګښت د دغه زياتوالي بار او بوج مصرف کوونکې يا کورنۍ د قيمت په بڼه پرې کوي، ځکه خو په داسې حالاتو کې د مقرراتو د وضع کولو د ګټورتوب پر ځای به مو عامو خلکو ته زيان رسولی او له بله اړخه به مو په هېواد کې د پانګونې څخه د بهرني پانګوالو زړه تور کړی وي. د بهرنۍ پانګونې د تشويق لپاره بايد په دغه ډول مقرراتو کې اسانتياوې رامنځ ته شي.

شپږم - ازاده سوداګري: ازاده سوداګري د يو هېواد څخه بل هېواد ته په صادراتو او وارداتو د کوم بنديز د نه شتون په مانا ده يعنې هر څوک کولی شي په ازاده توګه د يو هېواد څخه بل هېواد پانګه، خدمات او توکي ولېږدوي. هغه هېوادونه چې ترلی اقتصاد لري او په بهرنۍ ازادې سوداګرۍ يې بنديزونه لګولي وي هلته مولدين او شرکتونه پر صادراتو او وارداتو د درنو تعرفو او سهميو له امله په ستونزمن ډول خپل توکي صادرولی شي. دا چاره د هغوی پر لګښتونو اغېز کوي او هغوی ته د خپلو توکو د خرڅلاو لپاره يو محدود مارکيټ پاتې کېږي چې له امله يې د هغوی ګټه کمېږي او په لويه پيمانه د توليد economy of scale له ګټو بې برخې کېږي، خو که په بهرنۍ سوداګرۍ کې اسانتياوې نو بهرني پانګوال د ګټې د لاس ته راوړلو په خاطر په داسې يو هېواد کې پانګونې ته زړه ښه کوي.

اووم - د پور اسانتياوې: که يو هېواد د افلاس په صورت کې په کم سود بهرنيو پانګوالو ته هم د پور د ورکولو اسانتياوې ولري دا هم د بهرنيو پانګوالو د ډاډ او اعتماد لامل کېږي او د بهرنۍ پانګونې په جلبولو کې لوی رول لري.

اتم - امنيت: د يو هېواد امنيت د بهرنۍ پانګونې د جلب د سترو فکتورونو څخه دی. هلته چې يې پانګه او کاروبار خوندي نه وي هېڅکله به هم يو پانګوال پانګې اچونې ته زړه ښه نه کړي. له بده مرغه زموږ هېواد هم په داسې يو موقف کې قرار لري چې د امنيت د نه شتون له امله د پانګونې پر ځای ترې د پانګې د فرار ويره موجوده ده.

په پای کې د دې لپاره چې بهرنۍ پانګونه را جلب کړو بايد لاندې کړنې تر سره کړو:

# که اسلامي نظام نه وي، نو څه به کېږي؟

مولوي نورالحق مظهري

۱ - که اسلامي نظام نه وي، نو د انسانانو دنيوي ژوند به د انساني شرافت او بشري ارزښت پر اصولو برابر پر مخ ولاړ نه شي.

۲ - که اسلامي نظام نه وي، نو د انسانانو ژوند به د قيامت تر ورځې له اختلافاتو او ګډوډيو ډک وي.

۳ - که اسلامي نظام نه وي، نو د مسلمانانو او اسلام عزت به خوندي نه وي.

۴ - که اسلامي نظام نه وي، نو د اسلام د ساتنې او غځونې لپاره به جهاد، فتحې او مؤثر دعوتونه ختم شي چې ورسره به کفار، اهل باطل او شرير انسانان د مځکې واک په اختيار کې واخلي او پر عامو انسانانو به د ژوند کړۍ ورځ تر بلې سخته شي.

۵ - که اسلامي نظام نه وي، نو شرعي احکام او حدود به معطل شي چې په نتيجه کې به له مځکې څخه برکتونه او مشروع سهولتونه پورته شي.

۶ - که اسلامي نظام نه وي، نو د يتيمانو، کونډو، غريبانو او بې وزلو انسانانو پالنه او غور به څوک وکړي.

۷ - که اسلامي نظام نه وي، نو د شرعي حکمي مراسمو لکه حج، روژه او زکات سرپرستي به څوک وکړي؟

۸ - که اسلامي نظام نه وي، نو له ظالمانو به د مظلومانو حق څوک واخلي او د زورواکانو مخه به څوک ونيسي؟

۹ - که اسلامي نظام نه وي په حاکميت او تسلط کې به اهليت څنګه عملي سي؟

۱۰ - که اسلامي نظام نه وي د خلکو فزيکي، فکري، عقيدوي، اقتصادي او سياسي امنيت به څوک خوندي کړي؟

ځکه نو په هره زمانه کې د مځکې پر مخ د اسلامي نظام شتون ضروري او لازم دی؛ اوس چې الله تعالی زموږ په هېواد کې اسلامي نظام حاکم کړی، هر يو يې بايد په پوره سمبالولو او ساتلو کې له خپل توان سره سم برخه واخلي.

ژباړه: زه وايم: د دين او دنيا نظام مقصود دی او دغه مقصود بېله شتون څخه د امام په لاس نه راځي، که موږ د امام ټاکل و نه منو، نو دا به د قيامت تر ورځې د اختلافاتو او ګډوډۍ لامل شي، که د خلکو لپاره اطاعت کېدونکی امام نه وي، نو د اسلام عزت به له منځه ولاړ شي، که امت فاتح امام ونه لري، نو جنګونه او منظرې به بندې شي او د راتلونکي او تلونکي پر مخ به لارې پرې شي، که کومه زمانه له امام څخه خالي وي، نو په هغه وخت کې به احکام تعطيل شي او يتيمان به خوار شي او د بيت الله حج به څوک نه شي کولای، که ائمه، قاضيان، پاچاهان او واليان نه وي نو نااواده ښځې به په نکاح نه ورکول کېږي او د يتيمانو سرپرستي به نه کېږي او که پاچا نه وي، نو په خلکو کې به ګډوډي جوړه شي او ځينې به ځينې نور وخوري.[تهذيب الرياسة وترتيب السياسة ج۱ ص۸]

# ماضي په حال کې وا معتصماه!

لیکنه: خالدمشعل

معتصم عباسي خلیفه دی، محمد ابواسحاق بن هارون الرشید بن محمدمهدي، بن عبدالله منصور، بن علي بن عبدالله، بن عباس (رضي الله عنهما) بن عبدالمطلب هاشمي قریشی دی، چې د شعبان (۱۷۹هـ.ق) زوکړی او د ربیع الاول په ۲۲۷ هـ.ق وفات شو. معتصم په (مثمن) باندې مشهور و، ځکه چې ۸ کاله، ۸ میاشتې او ۸ ورځې د مسلمانانو خلیفه و، د عباسیانو ۸م خلیفه او د هارون ۸م اولاد و، په خپله ده ۸ زامن او ۸ لونې لرل، نو ده له ۸ عدد سره ډېر کارونه ترلي، اته عدد ته (ثماني، ثمانیة) وایي، ځکه خو دی هم مثمن بولي. د خپل ورور مامون په مهال د شام او مصر والي و او په ۱۹ رجب ۲۱۸ هـ.ق خلیفه شو. معتصم خورا زړور او شجاع و، د ده د عهد یوه مشهوره پېښه دا وه چې د عموریه په ښار باندې د بزنطیانو امپراتور تیوفل حمله وکړه، یاد ښار یې ونیوه، سړي یې شهیدان او ښځې و ماشومان یې بندیان کړل. د بندیانو په ډله کې یوه هاشمي ښځه هم وه، هغې غږ وکړ چې: (واه معتصماه!) یعنې: اې معتصمه! د مسلمانانو مرستې ته راشه! د مسلمانانو زورور خلیفه ته دا خبر ورسېده، د مسلمانانو اتل خلیفه اعلان وکړ چې ژر تر ژره تیار شئ خو ځینو نجومیانو د خپلو اپلتو مطابق وویل: خلیفه سلامت اوس (ستوري) داسې ښیي چې د عموریه ښار د بېرته نیولو لپاره حالات نه دي برابر او ډېره سخته یخني هم ده. ولې خلیفه خپله خبره کوله او د تیارشئ امر یې کاوه. د هغه مهال مشهور شاعر ابوتمام وویل:

«السیف أصدق أنباء من الکتب في حده الحدبین الجدواللعب»

نو د معتصم خلیفه پنځه لکه لښکر مخ په عموریه وخوځېده، د هاشمی مسلمانې خور غوښتنې ته یې لبیک ووایه او له لوی لښکر سره یې لوټ شوي ښار عموریه ته ځان ورساوه، خپله مسلمانه خور یې د دښمن له بنده خلاصه کړه، همدا شان نور بندیان یې هم ازاد او رها کړل. د ۲۰۲۳م د اکتوبر له (۷مې) د طوفان الاقصی څخه را وروسته یهودیانو هم په فلسطیني مسلمانانو یرغل پیل کړ او له ۲۲زرو زیات فلسطینیان یې له خاورو او سیمټو لاندې کړل، تر دې چې د مسلمانانو جوماتونه، مدرسې، پوهنتونونه او ښوونځي، همدارانګه د مسیحیانو کلیساوې او علمي مراکز یې لوټې لوټې او له زمکې سره برابر کړل! یهودیان یوازې د مسلمانانو دښمنان نه دي، د عیسویانو هم دي، خو امریکا او ټوله اروپا یې تر شا ولاړه ده، بایډن په خپله اسرائیلو ته راغی، لېنکن او د دفاع وزیر (آسټن) هم راغلل او یهودیانو ته یې د هر ډول مرستو ډاډ ورکړ. افسوس چې د عربي نړۍ ډارنو، عیاشو واکمنانو او چارواکو د فلسطین ټولو وګړیو او په ځانګړي ډول د غزې هستوګنو ته مثبت ځواب ورنه کړ او ډېر پوهان او عالمان یې د حماس غورځنګ پسې لا بد وایي، هغه غورځنګ چې غړي او مشران یې د صهیونستانو په وحشتونو کې ژوکړي او را لوی شوي دي. هره ورځ یې د هغوی ظلمونه او وحشتونه لیدلي دي او اوس یې هم ګوري او ګناه یې بس دا ده چې: مؤمن مسلمانان دي! د غزې او په مجموعه کې د ټول فلسطین وګړي (ماشومان او خویندې) د وامعتصماه! په څېر مسلمانو واکمنانو او چارواکو ته نعرې وهي خو د معتصم نجومیان د هغوی مرسته نه کوی، دا حالات د دې ور نه بولي چې د غزې د مسلمانانو مرسته وشي، څه لاندې باندې دوه میلیارده مسلمانان د اتو میلیونو یهودو له مقابلې عاجز دي!! نن یهودیانو ته عمري، ایوبي او معتصمي ځواب په کار دی، دا د ټولو مسلمانانو دنده ده چې له غزې او بیت المقدسه په قهرمانه ډول دفاع وکړي او یهود له بیت المقدس څخه وشړي. په ټولو مسلمانانو باندې د فقهي قواعدو او اصولو مطابق لازم (فرض الفروض) دی چې د خپلو غزه والو وروڼو او په مجموع کې د ټولو فلسطینیانو دفاع وکړي، د معتصم بالله غوندې د مسلمانې خور فریاد ته ځان ورسوي. نن په فلسطین کې خویندې فریاد کوي ژاړي، واړه ماشومان کوکارې وهي، له مسلمانانو مرسته غواړي، ولې یوه مسلمان واکمن هم غوږونه نه پرې ګروي! یوازې د افغانستان اسلامي امارت دی چې د یهودیانو وحشت غندي او له نړیوالو غواړي چې د دې (یهودي وحشت) مخه ونیسي، د اسلامي نړۍ نور حکام چوپ دي، له هغوی څخه د نورې نړۍ بشرپالان ښه دي، د دنیا په لر او بر کې یې (یهودي وحشتونه) وغندل او له خپلو واکمنانو یې د دې بربریت د ودرولو غوښتنه وکړه. د صهیونیستانو یوازې له غزه والو سره کار نه شته، هر څوک چې د بیت المقدس او نورې فلسطیني خاورې مفکوره په ککرې کې لري هغه یې دښمن دي، یهودیان دلته لوی دولت جوړوي (د دوی په اټکل) چې ډېر عربي هېوادونه په خپل دولت کې ننباسي یا یې برخې ترې سکني! د بل معتصم د پیدا کېدو په هیله!

# د اسلام اتل علي رضي الله عنه

لومړۍ برخه لیکوال : عبدالحمید جوده السحار ژباړن : شرر ساپی

علي مسجد ته رانووت، شوندې یې د علم د هغې خزانې په تورو خوځولې چې په سینه کې یې پروت دی، سترګې یې هغې دروازې ته وې چې د ده خور، ملګری معلم، ایډیال، د هغې د خورې زهراء پلار به ترې ژر راووځي.

قریش له اقتصادي بحران سره مخ شول، ابوطالب ته ډېره کوړمه(بچي) ورپه غاړه وه، رسول الله ـ ـخپل تره عباس ته وویل او تره یې په هاشمیانو کې شتمن و:

– ای عباسه، ستا ورور ابوطالب ته ډېر ماشومان ورغاړې دي، خلک له اقتصادي بحران سره مخ دي، له ماسره ورشه چې یو څه بچي ترې کم کړو، یو تن به زه ترې واخلم او یو تن به ترې ته واخلې.

عباس وویل:

– سمه ده.

رسول الله ورانـدې له دې چې پیغمبر شي او خلکو ته نیک اعمال بشپړ کړي، دا یې هېر نه کړل چې ابوطالب یې د ماشومتوب سرپرستي کړې وه، اوس یې وخت رارسېدلی، چې سپین ږیري ته یو څه بدله ورکړي، د خپل تره عباس سره د ابوطالب کور ته ورغی، دواړو ورته وویل:

– موږ غواړو چې له تانه دې یو څه بچي واخلو.

– که عقیل زوی راته پرېږدئ او نور چې هر یو اخلئ نو وایې اخلئ.

له هغو څخه چې الله تعالی پرې لورینه کړې وه، یو تن علي بن ابي طالب و، له اسلام وړاندې د رسول الله په لاس تربیه شو، د خدیجې بنت خویلد په کور کې را لوی شو، د کور په قیمتي شیانو یې زړه ورنغی، بلکې د خپل تره زوی خبرو یې په عقل واکمنې وکړه.

ماشوم به د خدیجه الکبری له غلام میسره سره کېناسته چې یې له خولې په حیرانتیا د ابوالقاسم په اړه هغه خبرې واورې چې په تجارتي سفر کې یې لیدلې وې، خلک یې په بازار کې په خپل ښه ښوی او نرم مزاج اسیران کړي وو، میسره په ډېره پاروونکې لهجه وایي ابوالقاسم د دې لپاره زېږېدلی، چې په عربي ټاپووزمه کې له ټولو لوی سوداګر وي، امانتکارۍ یې د دې کار جوګه کړی دی، علي که څه هم کشر دی، خو د خپل زړه په ژورو کې په دې پوهېږي چې د تره زوی یې د بل ستر کار لپاره پیدا شوی دی، هغه خو په دنیا کې زاهد دی، په شتمنۍ دومره نه خوشالېږي، تل یې نورو ته ورکوي، هغه د باران په څېر سخي دی، د وربځې په څېر سخي دی.د ماشوم له وړاندوینې سره سم الله تعالی خپل رسول ټولو خلکو ته د بشیر او نذیر په توګه راولېږه، نو ده پرې ایمان راوړه او د الله په وحي کې یې ریښتونی کړ، کله چې به د لمانځه وخت شو، رسول الله به د مکې درې ته راووت، لس کلن علي به ورسره هم له خپل پلار نه پټ راووت، یوه ورځ ابوطالب دواړه په لمانځه ولیدل، نو رسول الله ته یې وویل:

– وراره دا کوم دین دی چې ته یې کوې؟

– ای کاکا دا د الله دین دی، د هغه د ملائکو دین دی، د هغه د رسولانو دین دی، زموږ د پلار ابراهیم دین دی، زه الله تعالی خپلو بندګانو ته د رسول په توګه رالېږلی یم، کاکا ته له ټولو ډېر مستحق یې، چې د دې دین په اړه تاته نصیحت وکړم او سمې لارې ته دې راوغواړم، حق هم دا دی چې ته مثبت ځواب راکړې او مرسته راسره وکړې.

– ای وراره، زه خو نه شم کولای، چې د خپلو پلرونو دین پرېږدم، خو په خدای که زه ژوندای وم، هېڅوک درته پورته نه شي کتلی.

ماشوم تندی ترش کړ او خواشینی شو، د خپل پلار د مسلمانېدو تمه یې لرله، هغه هیله یې راکمه شوه، چې د ابوطالب په اسلام کې یې لرله، ابوطالب پرته له دې مړ شو، چې شونډې یې د شهادت په کلمه وخوځېږي، په دې یې باور و، چې الله له دې څخه ډېر لوی دی، چې کوم بشر دې پیغمبر راولېږي. کله چې هم علي ته خپل پلار وریاد شي چې په کفر مړ دی، مرۍ یې راډکه شي او اوښکې یې سترګې پرېمنځي.

ده خو هغه شپه د رسول الله په بستره سبا کړه چې رسول الله هجرت کاوه، د هغه حضرمي څادر یې په ځان راخپور کړ، که څه هم په دې پوهېده چې قریش په دروازه کې ولاړ دی، چې ویده شي، ټول به پرې یو ګوزار وکړي او وبه یې وژني، سره له دې بیا هم وېرې د علي زړه ته لاره ونه کړه.

ډېر ارام او ډاډه و، هغه چې له کومې ورځې نه اسلام اعلان کړی ، نو خپل ځان یې په دې روزلی چې سر یې له خپل خوږ نبي څخه قربان! رسول الله علیه السلام هجرت وکړ، علي خلکو ته د هغوی هغه امانتونه بېرته ورسپاري چې رسول الله ته یې ورکړي و، په مکه کې نو داسې څوک نه و، چې په کوم څیز به ووېرېده او هغه به یې رسول الله ته امانت ور نه کړ، ځکه چې هغه ریښتونی او امانتکار و.مدینې ته یې هجرت وکړ، په قباء کې دوه شپې پاتې شو، یوه مسلمانه بېوزله مېرمن یې ولیدله چې خاوند یې نه لره، په نیمه شپه کې به ورته یو څوک راغی، دروزاه به یې وروټکوله، هغه به ورته راووتله، دې سړي به یو څه ورکړل، هغې به ترې واخیستل، نو علي د دې کار په اړه حیران شو، په ښځه پسې ورغی، ورته یې وویل:

– ای مېرمنې، دا سړی څوک دی چې په نیمه شپه کې ستا دروازه ټکوي، ته ورته راوځې، تاته یو شی درکړي، نه پوهېږم چې څه شی درکوي او ته یوه مسلمانه مېرمن یې، خاوند نه لرې؟

– دا سهل بن حنیف بن واهب دی، هغه خبر شوی چې زه یوه زړه ښځه یم، څوک نه لرم، کله چې ماښام شي هغه د خلکو په بتانو پسې لاړ شي، مات یې کړي او بیا یې ماته د شپې راوړي چې په دې اور بل کړه.د ده او د سهل ترمنځ ملګرتیا وه، په خوا خاطر کې یې نه ګرځېدله چې سهل به یې په لویه فتنه کې تر څنګ ودرېږي او په عراق کې په مړي.

رسول الله د خپلو مهاجرینو او انصارو تر منځ وروروولي وکړه، بیا یې علي له لاسه ونیو او ویې ویل:

– دا زما ورور دی.

د زلمي زړه له خوښۍ ډک شو، د متقیانو امام او د رب العالمین استازي په ډک مجلس کې له علي سره وروري اعلان کړه، په العشیره غزا کې زلمی د عمار بن یاسر ملګری و، کله چې رسول الله ورننوت، د خروب په چارو یې د بني مدلج څخه ځینې خلک وتاکل، علي ابن ابي طالب عمار ته وویل:

– ای ابوالیقظانه، خوښه دې نه ده چې دې خلکو ته ورشو او ویې ګورو چې څنګه کار کوي؟

– ستا خوښه.

دواړه ورغلل، یوه ساعت یې د هغوی کار ولیده، بیا پرې خوب راغی، دواړه لاړ د کجورو سیورو ته په خاوره ویده شول، رسول الله راویښ کړل، په دغه خاورو یې جامې خړې شوې وې چې دوی په کې پراته وو، هم هغه ورځ رسول الله علي ته وویل:

– ابوترابه (د خاورې پلاره) څه کوې؟

ځکه چې په خاورو ککړ و، بیا یې وویل:

– ایا د دوزخ له ټولو بدبخته دوه تنه درونه ښایم؟

– ولې نه، د الله رسوله.

– د ثمودیانو احیمر چې اوښه یې ووژله او علي بل هغه چې تا به په دې ځای وهي، په تندي یې لاس کېښود، تر دې چې دا او دا به دې ترې لمده شي او ږیره یې ونیوه.

علي ته له ټولو خوږه اسم کنیه ابوتراب ( د خاور پلار) و.

مسلمانان بدر ته ووتل، په دغه وخت کې مسلمانانو اویا اوښان درلودل،چې دوی به پرې په نوبت سپرېدل، رسول الله ، علي بن ابي طالب او مرثد بن ابی مرثد الغنوی په یوه اوښ پسې وو.

علي بن ابي طالب د بدر په جګړه کې ولید بن عتبه وواژه او په دې سره یې د هغه د خور هند بنت عتبه په زړه کې د کرکې تخم وکره، هغې به خپل زوی معاویه بن ابي سفیان د علي بن ابی طالب سره په کرکه روزوه. د قریشو هېڅ داسې کور نه و، چې د علي د تورې خرپ یې نه و خوړلی. پوره اووه دیرش کسان یې وژلي وو، ټول قریش د علي بن ابي طالب وینو ته تږي ناست وو. د مکې له فتحې وروسته ټولو قریشو اسلام ومانه، نو د اسلامي ځوان سره د دښمنۍ لپاره کوم مجال پاتې نه شو او چې کله د عثمان بن عفان له مړینې وروسته د فتنې طوفان راوالوت، نو دې اور زاړه غچونه او خښې شوې کینې راوویستلې چې علي کرم الله وجهه پرې وداغي.د احد د جګړې په ورځ، مصعب بن عمیر له رسول الله نه په مېړانه دفاع کوله او د مهاجرینو بیرغ یې پورته کړی و، مصعب ووژل شو او رسول الله بیرغ علي کرم الله وجهه ته ورکړ، علي بېرغ پورته کړ، جګړې ته رامخکې شو او ویې ویل:

– زه ابوالفصم(د ماتوونکي )یم.

نو سعدبن ابی طلحه ورغږ کړ، دی د مشرکانو د لواء مسئول و، په ملنډه آمیزه شکل یې وویل:

– ابوالفصمه. له ماسره دې جګړې ته زړه کېږي؟

– بلې.

دواړه د لیکو ترمنځ جګړې ته کوز شول، علي پرې ګوزار وکړ. طلحه یې راوپرځاوه، خو علي ترې ستون شو او مړ یې نه کړ، ملګرو یې ورته وویل:

– ولې دې مړ نه کړ.

– د هغه عورت ښکاره شو، له مایې د صله رحمې غوښتنه وکړه او زه پوهه شوم چې الله تعالی یې وژني.

غیشو ویشتونکو د رسول الله له امر نه سر غړونه وکړه، نو ماتې وخوړه، کله چې ابوسفیان بېرته وګرځېده، نو غږ یې وکړ:

– په راتلونکي کال کې به بیا په بدر کې ګورو.

رسول الله علیه السلام. خپل یو تن ملګري ته وویل:

– ورته ووایه هو، دا زموږ او ستاسې ترمنځ ژمنه شوه.

بیا رسول الله علي ورولیږه او ورته یې وویل:

– دې خلکو پسې ووځه چې څه کوي، که له آسونو کوز شوي وي او په اوښانو سپاره وي، بیا مکې ته ځي، خو که په اسونو سپاره یې او اوښان یې روان کړي وي، بیا په مدینه برید کوي، په خدای که د مدینې په نیت لاړل، نو هرومرو پسې ورځم او جګړه ورسره کوم.علي ورپسې روان شو، په مسلمانانو یې زړه خوږېده، عبدالرحمن شل ټپونه خوړلي دي، زیات ټپونه یې په پښه خوړلي وو، ترې ګوډ شو، ابودجانه رسول الله ته ځان سپر کړی و، په شا یې غیشي لګېدل او ده په رسول الله ځان ورټیټ کړی و، د قتاده بن النعمان سترګه ولګېده، بهر ترې راووتله، د رسول الله رباعي غاښونه مات شول. مخ یې ټپي شو، پر مخ مبارک یې وینې روانې وې.(اسدلله) حمزه بن عبدالمطلب ووژل شو، د مهاجرینو او انصارو ځینې خلک ووژل شول، مسلمانان زیات ستړي شول. ابوسفیان او ورسره ملګرو یې اسونه پرېښودل. په اوښانو سپاره شول او مکې ته روان شول، نو رسول الله ارام شو چې په مدینه کې د مسلمانانو او د دوی ترمنځ جګړه نه کېږي.

رسول الله خپل کور ته راستون شو، خپل حبیب او ورور یې علي بن ابي طالب ورسره دی، رسول الله خپله توره خپلې لور فاطمې ته ورکړه، ورته یې وویل:

– لورجانې له دې وینه ووینځه، په خدای نن خو یې ریښتونی کړم

علي هم خپله توره ورکړه او ورته یې وویل:

– او له دې یې هم ووینځه، په خدای نن خو یې راسره ځواني وکړه.

رسول الله وویل:

– که تا په ریښتوني جګړه کړې ده، نو له تاسره سهیل بن حنیف او ابودجانه هم په مېړانې جګړه کړې ده.

یوه شیبه چوپتیا شوه، بیا رسول الله علیه السلام علی ته وویل:

– مشرکان به نو نور موږ ته د مکې تر فتحې د دې مصیبت څېر بل مصیبت ونه رسوي.

رسول الله رښتیا ویلي و، مشرکانو د مکې تر فتحې مسلمانانو ته دغسې بل کوم زیان وانه اړاوه.

محمد صلی الله علیه وسلم او ملګري یې

۱۹ ټوک حجه الوداع

# شعر او ادب

## غزل

په غروب کې يې لا هم رڼا پرته ده
داسې لمراوآينې ته دې سلام وي

په ميلمه چې پاچاهي چاملنګي کړه
دهغه سراوشملې ته دې سلام وي

چې تاريخ په حکومت بايللی نه شم
دغيرت هغې جملې ته دې سلام وي

دجهان سفر ځواکونوته خم نه شوه
هامضبوتي عقيدې ته دې سلام وي

چې يې مورړ ته داسې ستره هستي راوړه
دغازي عمـــــرادې ته دې سلام وي

ای مغفوره چې پرې يارکله هم تللی
هغه ور او دروازې ته دې ســـلام وي

## حاصل دې استقلال کړ

مغفور

امنودې نړۍ ته داځل داسې جواب ورکړ
خنثی يه شي نطفه کې ارادې سپېځلې خاورې

ته ځکه قدرمنه يې غازيان درباندې اوسې
په تاباندې بل شوې دي ډېوې سپېځلې خاورې

حاصل دې استقلال کړسترګې ځکه ستاپه لور
رااوړي داقصی اودغزې سپېځلې خاورې

مغفورچې افغانی دی بس هم دغه وياړيه بس دی
همېش درباندې ليکي ترانې سپېځلې خاورې

## داقصی پرهر

م بسم الله حيدري جان

د امت بدن ته ګوره چه ټپونه پرې زياتېږي
داقصی ژور پرهر خوپه قسم نه پرې ځايېږي

سترشيطان دمسلمان په برخليک باندې کړي لوبې
عجيبه ده غوښه ګوره چه پيشوته سپارل کيږي

امتحان دی دغيرت اودايمان به کوي تول
دادقدس موضوع ماته لکه تَله راښکارېږي

نشي نشي زنده باداومرده بادباندې څه نشي
تېره توره قوي متې لوړهمت نن پکارېږي

# عمر بن عبدالعزيز او د «خوب» تحقيق

حامد افغان

د خراساني خوب

کله چې عمر بن عبد العزيز رضي الله عنه خليفه وټاکل شو، څه وخت وروسته يو سړی له خراسانه هغه ته ورغی او ورته ويې ويل: اميرالمومنين! خوب کې چا راته وويل: کله چې د بنواميه کورنی أشج (د تندي نښان وال) واک ته ورسېږي؛ له ظلم ډکه ځمکه به بېرته له عدل ډکه کړي.

خراساني سړي زياته کړه: نو کله چې وليد بن عبد الملک خليفه وټاکل شو، پوښتنه مې وکړه، راته وويل شول هغه پر تندي نښان نه لري، بيا چې سليمان بن عبد الملک خليفه وټاکل شو، پوښتنه مې وکړه، راته وويل شول هغه هم پر تندي نښان نه لري،ته چې خليفه شوې نو ته پر تندي نښان لرې.

د خوب تحقيق

عمر بن عبد العزيز ورته وويل: قران دې زده دی؟ خراساني وويل: هو، عمر ورته وويل: په هغه ذات قسم وکړه، چې د قران زده کړې نعمت يې درکړی؛ دا ته چې څه وايې دا رښتيا وايې؟ هغه وويل: هو.

عمر بن عبد العزيز امر وکړ، چې خراسانی په مېلمستون کې وساتئ، سړی يې تقريباً دوه مياشتې له عمر سره مېلمه پاتې شو، بله ورځ عمر وروغوښت او ورته ويې ويل: ته پوهېږې مورړ ولې دومره اوږده موده له ځان سره وساتلې؟ هغه وويل: نه، عمر ورته وويل: ځکه ستا وطن ته مې سړی لیږلی و، چې ستا په اړه کره معلومات راته راوړي، هغه چې راغی ستا په اړه يې راته وويل،چې دوستانو او دښمنانو دې يو ډول ستاينې کولې! اوس څه سپين مخ ولاړ شه. العقد الفريد لابن عبد ربه الاندلسي، د سيرة عمر بن عبدالعزيز لابن الجوزي په حواله.

مورړ او خوبونه

د خراساني خوب کې د عمر فضيلت بيان شوی، خو څرنګه چې خوب ليدونکی نامعلوم دی،نو عمر يې پوره تحقيق کوي، اول ورته وايي: قران دې زده دی؟ يعني عالم يې؟ بيا په الله قسم ورکوي،چې دا خوب دې رښتيا ليدلی؟ بيا يې دوه مياشتې له ځان سره ساتې، د ده د کره توب باره کې له دمشق نه خراسان ته سړی لېږي، هلته د خراساني ځای پيدا کوي او بيا يې له دوستانو او دښمنانو دواړو پوښتنې کوي! د عمر رحمه الله سيرت ليکونکي ليکي: د ده په ژوند او سيرت کې د هر چا لپاره ګټور پندونه او عبرتونه پراته دي، لکه دلته چې زمورړ د عامو لپاره د خوب اړوند ګټور نصيحت پروت دی، د خوبونو برخه کې مورړ دې ځای ته رارسېدلي يو چې نن سبا يو چا ته موبايل کې کوم مجهول د «مينه وال» يا «مريد» په نوم لګيا شي او ديارلس ګزه خوب ورته ووايي، نور مطلق نامعلوم خلک په سپينو کاغذونو اوږده اوږده خوبونه ورته وليکي او داسې نور... دوی راولاړ شي سترو سترو مجلسونو او آن جلسو او غونډو کې د دې مجهولو او نامعلومو خلکو خوبونه بيانوي او په دې توګه خپله دينداري او تقوی خلکو ته ثابتوي!

# چند سخن در باره خوارج....!

خالقيار.

اگر تاريخ ملت افغان مطالعه گردد، در آن صورت هيچکس دل خوش نخواهد کرد تا بالای اينها اهداف شان را عملی کند.اگر ببينيم و انقلاب ۲۰ سال گذشته را مطالعه کنيم پس اين معلوم خواهد شد.که واقعاً هم بدون اسلام و شريعت در اينجا هيچ قدرتی تاب نمی آورد. شما ديديد بالای افغانها ده ها کشور کفری زور و نيرنگ خود را ازمايش نمودند مگر نتيجه ای نداد بلکه خودرا بالای شان خراب تر و ذليل تر نمودند. بناءً خوارج (دواعش کنونی) از زمان پيغمبر (ص) شروع الی امروز، بلکه تا روز قيامت همين قسم خوار و ذليل خواهد ماند. اينها سابقه ای خوبی ندارند. دشمنان شرير و ذليل امت اسلامی هستند اينها در جامه اسلامی هميشه قاتلين مسلمانها بودند برای اينها بدون از خودشان همه ای مردم کافر معلوم ميشود. از همين بابت در قتل و کشتار مسلمانها، در جستجوی ثواب هستند؛ در حاليکه در قتل و کشتار مسلمانان به جای ثواب مزه عذاب را خواهند چشيد. خوارج در دامن اسلام لکه ای سياه است که پاک کردن آن بر هر مسلمان لازم و فرض است. فقط برای ما افغانها نه، بلکه برای همه ای مسلمين لازم است که درکشتار آنها، جستجوی بهشت بکنند. برای اينها در حديث شريف (سگ های جهنم خطاب شده است) ولی اينها بدتر از سگها استند نشان بگيريد شکار کنيد و از بين ببريد. در اينجا بايد بنياد اينها از بين برود قسم به الله در قتل اينها ثواب است. شما تاريخ اينها را نگاه کنيد که اينها چقدر اعمال خبيث و شوم را مرتکب شده اند . اينها ده ها صحابه کرام را شهيد ساختند،اينها صدها تابعين و تبع تابعين را شهيد ساختند، اينها به هزاران مسلمان عام را شهيد ساختند و حال هم مشغول هستند در تفرقه اندازی بين مسلمانها و از کشتار آنها لذت می‌برند.

برای ملت افغان به کار است؛ بلکه لازم و فرض ميباشد، که برای هدف قرار دادن اينها با استخبارات نظام حاکم(امارت اسلامی افغانستان ) همکاری کامل خودرا دوام بدهيم، تا اين اجنبی ها بنام داعش (خوارج) به سزای اعمال شوم شان رسيده شوند.

هموطنان عزيز!

وقتيکه افراد مشکوک را درمحل ومنطقه تان مشاهده نموديد، در خانه های شان افراد مختلف و بيگانه رفت و آمد نمود، بعد از معلومات با استخبارات وضعيت را شريک سازيد.

اجازه ندهيد در اينجا استخبارات و دست نشانده های کشورهای بيگانه (خوارج) به اهداف شوم شان دست پيدا کنند.

شما در قسمت امنيت کشور،شهر و منطقه تان نقشی مهمی را ايفاء ميکنيد.

# په اوښکو دوکه نه شئ!

حسان مجاهد



د وخت مشهور شاعر أبودلامه د خليفه مهدي مجلس ته راغی او له سترګو يې اوښکې روانې شوې، مهدي ترې وپوښتل: څه در پېښه ده؟ أبودلامه وويل: مېرمن مې وفات شوه! خليفه وويل:(انا لله و انا اليه راجعون) زړه يې پرې ودرېده، غمشريکي يې ورسره وکړه، زر درهمه يې ورکړل او ورته يې وويل،چې په غم کې به يو ضرورت پوره کړې. أبودلامه روان شو، کله چې کورته ننووت، مېرمنې(ام دلامه) ته يې وويل: لاړه شه د خليفه مهدي مېنځې خيزران ته، هلته به اجازه وغواړې، چې کله ورشې، نو به وژاړې او وبه وايې چې خاوند أبودلامه مې مړ شو! ام دلامه هم سمدستي روانه شوه، خيزران ته د ورتګ اجازه يې وغوښته، کله چې د هغې په مجلس کې کراره کېناسته، نو ويې ژړل، د مهدي مېنځې ترې وپوښتل: ولې ژاړې؟ دې وويل: خاوند أبودلامه مې مړ شو! خيزران (انا لله و انا اليه راجعون) وويل، پرې غمجنه شوه او دوه زره درهمه يې ورکړل. مهدي چې د خيزران مجلس ته راغی، نو دا ورته وايي: نه به يې خبر؛ أبودلامه شاعر ومړ! مهدي وويل: نه، دی ژوندی دی، مېرمن يې مړه شوه! مېنځې وويل: نه، والله أبودلامه خپله مړ شو، مهدي وويل: سبحان الله! هغه خو يوه لحظه مخکې زما له مجلسه ووت! مېنځې وويل: سبحان الله! نو مېرمن ام دلامه،خو بيا يوه لحظه مخکې زما له مجلسه ووته! مهدي وخندل او د دوی دواړو حيلې ته حيران پاتې شو. اوښکې تويول هم هغه هنر دی، چې نن يې اکثره مهارت لري، ډېر وخت يو څوک په اوښکو د بل مسلمان حق تر لاسه کړي او ډېر وخت د اوښکو پرمټ په ډېره آسانی سره خورا ډېره دنيا خپله کړي، نن ورځ،خو اوښکې لا څه، چې خلک د دروغو وينې تويوي. زمورړ يو دوست حاجي انور کاکا دی اوس الله تعالی وبښي، ويل يې: له يو چاسره مې د ځمکې پر سر لانجه شوه، پوه شوم چې يم خو په ناحقه، نو په يوه هديره تيرېدم، يو هډوکي ته مې لاس کړ، له ځانه سره مې خير کړ او تندی مې پرې وواهه، د قاضي مجلس ته په داسې حال کې ورننوتم،چې پر مخ مې وينې روانې وې، آخر هم په همدغه دروغجنو وينو مې فيصله وګټله. پايله دا شوه،چې په مکارو او دروغجنو اوښکو هېڅکله دوکه نه شئ!

# ځیني هېوادونه استقلالیت نه لري؛ باید سیاسي جرئت پیدا کړي

د هېوادونو د بشپړ اســتقلال یوه لویه نښه دا ده، چې وکولی شي لکه د افغانستان اسلامي امارت له نورې نړۍ سره اړیکې له خپل خپلواک سیاســي ادرس څخه وپالي او د بل چا تر اغېز لاندې نه وي.وروسته ترهغې چې افغانستان کې اسلامي امارت بیاځلې واک ته رسېدلی، د ځینو هېوادونو پالیسي او د چارواکو ویناوې دا ثرګندوي، چې غواړي له اسلامي امارت سره رسمي راشه درشــه ولري، خو د سیاسي استقلالیت نه شــتون یې اجازه نه ورکوي، چې دغسې یو ګام پورته کړي.د اسلامي امارت د واک په روانه موده کې هغو ګوتو په شمار هېوادونو، چې افغانســتان کې یې خپل سفارتونه فعال کړي او هم یې په خپلو هېوادونو کې ســفارتي او کونسلي چارې د اسلامي امارت استازو ته ســپارلې دي، هڅه کړې، چې نړۍ کې خپل هر ډول استقلالیت وښیي او دا ثرګنده کړي، چې چارې یې په خپله خوښې روانې دي او د نړۍ د بل هېڅ هېواد تر اغېزې لاندې نه دي.یو شمېر نور هېوادونه بیا، چې د افغانستان اسلامي امارت له لوري د مات شویو هېوادونو تر اغېز لاندې دي او غواړي کابل کې له اصیل افغاني حکومت ســره اړیکې ولري، خو دا چې سیاسي او نورې چارې یې د نورو له لوري مدیریت کېږي، نه شي کولی کابل کې خپلې سفارتي چارې پیل او په خپلو هېوادونو کې د اسلامي امارت سیاسي اســتازي ومني، چې دا د دوی د بشپړ استقلالیت د نشــتون نښــه ده.دغه هېوادونه باید څه وکړي؟هېوادونه که ریښــتیا هم ځان مستقل ګڼي باید خپلو پالیسیو او ګوتو ته په کتو د افغانستان اســلامي امارت سره سیاسي او نورو خبرو ته رامخته شــي او پرېنږدي، چې د هېوادونو ګټې یې د نورو د لوبو ښکار شي.که چېرې دوی له افغانستان سره بیاځلې راشه درشه پیل کړي نو نه دا چې سیمه کې به یې له یو لوی او قوي نظام سره د اړیکو تار غځولی وي؛ بلکې له اقتصادي او نورو برخو څخه هم ګټه ترلاسه کولی شي.نو جرئت ښه شی دی او هېوادونه باید دغه جرئت ولري.

**تبصره**

# علاقمندی جوانان به مطالعه در بغلان افزایش یافته است

میزان علاقمنــدی جوانان به مطالعــه در بغلان در مقایسه به ســال های قبل تا ۵۰ فیصد افزایش یافته اســت.هم اکنون، روزانه ده ها تــن جهت مطالعه به کتابخانه عامه ریاســت اطلاعات فرهنگ بغلان مراجعه مــی کنند.کریم الله رجبــی مدیر عمومی کتابخانه عامه ریاســت اطلاعات فرهنگ به آژانس باختر گفت:ماهانه حدود چهارصد الی پنجصد تن که اکثرشــان جوانان و نو جوانان انــد، به کتابخانه عامه جهــت مطالعه مراجعه می نماینــد و این در حالی است که در سال های قبل ماهانه دوصد الی ســه صد تن مراجعین داشتیم و این نشان دهنده آن اســت که علاقمندی به مطالعــه در بغلان تا پنجاه فیصد افزایش یافته اســت این در حالی اســت که اطلاعــات فرهنگ بغلان به خاطــر ترویج فرهنگ مطالعه برنامه ریزی های زیادی داشــته است. در بغلان بر علاوه کتاب خانه عامه در شهر پلخمری، چهار کتاب خانه دیگر در ولسوالی های ده صلاح، خنجان، دوشی و بغلان مرکزی فعال است

در همین حال احمد راشــد و فضل الرحمن دو تن از علاقمندان کتاب کــه در کتاب خانه عامه جهت مطالعه مراجعه کرده میگویند.مطالعه ذهن انســان را بــاز حافظه را تقویت و معلومــات عمومی مارا افزایش میدهد، آنان از سایر جوانان خواست وقت شان را ارزش شان دهند و مطالعه نمایند.



## پنجاه لوحه غیرمعیاری ...

های اعلانات، افــزود که کمیته هــای ولایتی این کمیســیون در ۲۶ ولایت کشــور فعال بود و روند بررســی و اصلاح لوحه و تابلو هــای اعلانات در مرکز و ولایت کشــور ادامه دارد. گفتنی است این کمیســیون مطابق به طرزالعمل خود، قبلاً از طریق رســانه ها و نواحی مربوط به دکانداران و صاحبان کسب و کار آگاهی داده بود که متن لوحه ها و تابلو های اعلانات شان را باید به زبان های ملی و محلی ترتیب کنند و از واژه های خارجی استفاده نکنند.و همچنان تصاویر که در ترتیب لوحه ها و تابلو های اعلانات به کار برده می شود غیر شرعی و مغشوش کننده اذهان عامه نباشد.

## بامیانو کې د یوې ترافیکي ...

روغتون ته لېږدول شوي او د ټپیان روغتیایي حالت نازک ښودل شوی دی.د پېښې علت د موټر چلوونکو بې احتیاطي ښودل شوې ده.

## برپایی برنامه ...

و اهــداف جوانــان صحبــت نموده، جوانان را قشــر پرانرژی این جامعه عنوان کرد و تأکید نمود که جوانان می توانند با اســتفاده برنامه هــا واهداف موثر، زندگی خود را بــا روش های نوین مطالعه، تغییر دهند.

## د څه باندې ۱۸ میلیونه ډالرو...

په ورته وخت کې بریالي عمرزي د یادو موسسو په استازیتوب یې خبــرې کولې ژمنه وکــړه، چې اړمنو خلکــو ته د غوره چوپړتیاوو وړاندې کولو هڅې به وکړي.د دغه هوکړه لیکونو له مخې به ۹ کورنۍ موسسې په کابل، کندهار، پنجشېر، کونړ، پکتیکا، بامیان، خوست او لوګر ولایتونو کې د فني او حرفوي زده کړو او لــه یتیمانو څخه د ملاتړ په برخو کې ۱۸ میلیونه ۱۳ زره ۵۸۳ ډالر لګوي.هېره دې نه وي، چې په دغه لړۍ کې به ۷ زره ۵۷۵ کسان له یادو مرستو څخه برخمن شي.

## دعینو مېنې د ښارګوټي د لاپراختیا...

دې غونډه کې یادو چارواکو د نورو موضوعاتو ترڅنګ د عینو مېنې د ښارګوټي د لاپراختیا او سمسورتیا په پار خبرې وکړې او ویې ویل، چې سوداګر او خلک باید وهڅول شي، چې په یاد ښارګوټي کې پانګونه وکړي، ترڅو یو معیاري ښارګوټی شي.په دې غونډه کې دغه راز اړوندو چارواکو د هر اړخیزو همکاریو د ژمنې ترڅنګ په دې برخه کې د جدي هلو ځلو ډاډ ورکړل.

## د سیندونو اوبارانونو ...

د خپلــو هڅو پایله مومــي. نو راځئ که د هېواد ښــېرازي او ســوکالي غواړئ خپلې هغه اوبه، خوړونه، ســیندونه او ســېلابونه را ایســارکړئ چې وخت پروخت له اســمانه را بهیــږي او هــره ورځ یې په لکونــه ټنه په وړیــا توګه بهرته صادروئ.

د دغو ډکو ســیندونو را ایسارول یوازې د هغو سترو بندونو او دېوالونو په شــکل نه، بلکې لا په ډېرو نورو صورتونو هم ممکن دي. څکه دا لکه د کونړ، هلمند، آمو او نور سیندونه خــو په ایکي یو ځای په همدې کچه نه را خوټیږي، دا خو د یــوې چینې، یوې یوې کندې او یوه خوړ له بل سره یو ځای کیږي، بیا ډېرې او دغه شــان لوی ســیندونه ترې جوړیږي چې بیا نو طبعاً هر ګاونډی هم شونډې ورته څټي او برخې پکې غواړي. نوښه داده چې لږ پورته د سرچینو خواته ولاړ شــو او واړه واړه بندونه وتړو، لاندې بــه خپله اوبه دومره کمــې شي چې له هېــواده بهر د وتلونــه وي. دغه راز هغو وچوکندو او ژورو کې هم بندونــه تړل په کار دي چې پرته له بارانې ســیلابه نورې چینې نه لري. په دې ډول به مو هم د ځمکــې ګېډه له اوبو ډکه وي، هم بــه کوهیان نه وچیږي او هــم به دســیلابونو له زیان او خطره بچ یو. څوک شــته چې د بندو پرګټو مو خبر کړي؟

## بغلان کې د ۵۶ ...

شوي وو، چې له ۴۵ ورځو درملنې وروسته بېرته روغ او عادي ژوند ته راستانه شول.د کامران په وینا، اوس مهال په نشه یي توکو کوم روږدي کس بهر نه پاتې کېږي او د ژمي موسم په را رسېدو سره په نشه یي توکو د ټولو روږدو کســانو درملنه په دوو کمپونو کې کېږي.د یادونې وړ ده، چې په تېرو دوو کلونو کې په بغلان کې د نږدې ۳۴۰۰ روږدو کســانو درملنه شوې او بېرته عادي ژوند ته راستانه شوي دي.

## تخار کې د ۶ میلیونه افغانیو ...

متره مربع ځمکې جوړ شوی او پر یو وخت د زر تنو عبادت کوونکو د ځایولو ورتیا لري.\د دغه یو پوړیز مسجد ټول لګښت ۶ میلیونه افغانۍ شوی دی.دا په داسې حال کې ده، چې ټاکل شوې د افغانستان اسلامي امارت د عالیقدرامیر المومنین حفظه الله په لارښوونه د هېواد په بېلابېلو سیمو او د لویو لارو په اوږدو کې سلګونه بابه مسجدونه جوړ شي.

## د ننګرهار د ترکانۍ فابریکې ...

، کوچونه، کــوټ بندونه، الماری او نــورو توکو د پلور ترڅنــګ د هېوادوالو فرمایشات هم منل کېږي.د ننګرهار کانال شرکت د رییس په خبره په دې فابریکه کــې ټول کارېدونکي لرګي خپله د کانال د ځلورګونو فارمونو څخه دي، چې له ښــه مرغه جوړ فرنیچرو او اجناسو یې د بهرنیو هغو ځای نیولی دی.د ننګرهار کانال شرکت د ساختمان امریت اړوند د نجارۍ فابریکه هډې فارم کې موقعیت لري، په وروستي ځل ۱۷۰زره افغانیو په مالي لګښت رغول شوې ده. باید وویل شــي، چې د ترکانۍ یاده فابرېکه د لومړي ځل لپــاره په ۱۳۳۹ کال کې هډې فارم اړوند ثمرخېلو سیمه کې جوړه او فعاله شوه، چې هغه مهال په کې ۱۸۰۰ تنه درې وخته په کار بوخت و، د ننګرهار کانال شــرکت د اړتیاو سره سره یې د ننګرهارولایت د دولتي ادارو او استوګنو غوښتنې هم پوره کول.

## سفر شماری مقام های ...

مولوی عبید الله والی تخار و مولوی امان الدین منصور قوماندان قــول اردوی ۲۱۷ عمری مقیم کندز، اســت که بــه منظور محو و نابــودی کامل کشــت، تولید، فروش وقاچــاق مواد مخدر و طرح بدیل آن، به بدخشــان سفر کرده اند.هیئت در نظر دارد که در روز های آینده با علما، ولســوالان، قومندان امنیه ولســوالی هــا، مدیران اســتخبارات، متنفذین و مســوولان محاکم دیدار و پیرامون جلوگیــری از زرع و ترافیک مواد مخــدر گفتگو کنند. مولوی ســیف الرحمــن تایب معاون اداره امــور طی صحبت های هدف سفرشــان به بدخشان را که به اساس فرمان عالیقدر امیر المومنین «حفظه الله» صورت گرفته اســت،محو کامل مواد مخدر دانســت که در جریان آن با بــزرگان قومی، و مقام های محلی و مســوولان نهاد های محلی صحبــت خواهند کرد، تا فرمان عالیقــدر امیر المومنین حفظه الله را در راســتای نابودی مواد مخدر تطبیق شــود و دهاقین کشــت بدیــل مواد مخدر را مدنظــر گیرند، و بدانند که موقف امارت اســلامی در این مورد جدی اســت و از کشت آن دست بردارند.مولوی عبدالحق معاون وزارت امور داخله دراین سفرگفت" در تمام نقاط افغانستان زرع مواد مخدر به صفر رســیده است و قرار گزارش های دریافتی در برخی نقاط بدخشــان مواد مخدر کشت شده است، به مسوولان پیرامون از بین بردن کشت خشخاش صحبت نموده و نیز محاکم جــزای تعذیری را که از ســوی عالیقدر امیــر المومنین حفظه الله در این راســتا برای متخلفین تعین شــده تطبیق نمایند."قاری فصیــح الدین فطرت لوی درستیزکشــور، می گوید که زرع مواد مخدر نگرانی های را ایجادکرده اســت او از مســوولان خواست که فرمان عالیقدر امیر المومنین «حفظه الله» را که یک ســال قبل جهت منع مواد مخدر صادر شــده است، بالای همه مردم به گونه یکســان تطبیق کرده و موقف امارت اســلامی را در این راســتا ابلاغ کنند .

## تاکید والی سرپل...

ســرپل در قسمت اســتخدام افراد مسلکی و شایســته و همچنان جهت تأمین امنیت ساحات تأسیســات نفتی ابراز خرسندی کرده و خواهان همکاری بیشتر در این راستا شدند.ساحات نفتی انگوت یکی از منابع مهم عایداتی کشور درسرپل است که کار استخراج آن و چاه های نفت قشــقری، سال گذشــته با یک شرکت چینی قرار داد شده است.

## نیاز است جوانان انرژی ...

«پس از پیروزی جهاد نیاز اســت که نســل جوان انرژی خود را در راستای آبــادی، افتخارات و فعالیت‌های مثبت به کار گیرند تا افغانســتان بتواند با جهان رقابت کند.»او ضمن ســپاس‌گذاری از برگزار کنندگان رقابت های بزکشــی و تبریک گویی به قهرمانان این دور رقابت، گفت: جای مســرت اســت که جوانان بخاطــر بازی های ملی زحمت می کشــند و افتخارات بدســت می آورند.معاون سیاسی ریاســت الوزرا افزود که امارت اسلامی از ورزشکاران حمایت می‌کند و به منظور حل مشکلات آنان اقدام خواهد کرد.

غلام سرور جلال، رییس فدراسیون بزکشــی، گفت که با حاکمیت دوباره امارت اســلامی در کشور این بازی‌ها به مناطق دورافتاده کشور رسیده و به همین دلیل بهترین اســتعدادها در حال ظهور هستند و علاقمندی مردم به بازی بزکشــی به حیث بازی تاریخی و ملی افغانستان افزایش یافته است.

گفتنی است که این دور رقابت‌های ملی بزکشی با قهرمانی تیم سرپل پایان یافته و در این دیدار مســوولا ن و پهلوانان تیم بزکشــی سرپل نیز به منظور پیشرفت این ورزش در آن ولایت پیشنهادهای شان را بیان کردند.

هم‌چنــان شــماری از نمایندگان گنگ‌های زون شــمال کشــور در دیدار جداگانــه‌ای با مولوی عبدالکبیر، معاون سیاســی ریاســت الوزرا امارت اسلامی افغانستان خواست‌های شان را در زمینه های کاریابی، فراهم کردن سهولت‌های لازم و استخدام گنگ‌ها در ادارات حکومتی مطرح کردند.

معاون سیاسی ریاســت الوزرا نیز گفته است که امارت اسلامی تمام اتباع خویــش را به یــک نظر می‌نگرد و میــان آنان هیچ تفــاوت و تبعیض قایل نیست. وی افزود که گنگ‌ها همانند سایر افراد جامعه حقوق یکسان دارند و با توجه به ظرفیت کاری و اســتعدادهای ویــژه آنان، زمینه آموزش و کار برای آنان فراهم خواهد شد.

## از اثر توافقنامه افغانستان...

و نیمروز و ســه گمرک سرحدی طرف ایران، افزایش شمار موترهای باربری روزانــه از ۵۵۰ به یک هزار و ۲۰۰ موتر به منظور افزایش صادرات و واردات میان دو کشــور و ملغی شدن شماری از فیس‌های تعیین شده به منظور توسعه تجارت، توافقاتی است که در این نشست‌ها بدست آمده است.خبرنامه می‌افزاید که ایران ۱۰۴ دالر و افغانستان پنج‌هزار افغانی فیس خاک پولی را نیز لغوه کرده اندهدف از برگزاری این نشست‌ها، تعقیب توافقنامه‌های است که چندی پیش در جریان سفر ملا عبدالغنی برادر آخند به ایران امضا شده استگفتنی است که طی سفر رسمی معاون اقتصادی ریاست الوزرا به ایران که به هدف افزایش سطح مبادلات تجاری و ترانزیت میان دو کشور صورت گرفت برخی توافقنامه‌های به امضا رسید و جهت تعقیب آن کمیته‌های مشترک گماشته شد.

## اسرائیل د غزې ...

څرګندونو ســربېره ورمه ورځ یوې اســرایلۍ ورځپاڼــې یدیعوت آحارانوت هم په روانې جګړه کې د اســرایلي پــوځ د زیاتو تلفاتو له ورکړې خبر ورکړی وو.دغــې ورځپاڼــې ویلي و، چې روانــې جګړه کې یواځې ۱۲ زره ۵ ســوه صهیونســتي پوځیان معلول او په کور کېنول شوي دي.که څه هم د اسرایلي پوځ ویاند د ټولو وژل شــویو اسرایلي پوځیانو شمېر د ۵ سوو په شاوخوا کې ښــیي، خو د راپورونو په حواله دغې جګړه کې زرګونه اســرایلي پوځیان وژل شوي دي.

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤل مدير: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷٦۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
ویب سایت: WWW.shariatdaily.com

Monday 08 January 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 354

# لوی پامیر کې لومړی ځل مخابراتي شبکو فعالیت پیل کړ



د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت وايي، له کوچني پامیر وروسته د بدخشان ولایت د واخان ولسوالي په لیري پرته سیمه (لوی پامیر) کې هم د لومړي ځل لپاره د سلام مخابراتي شبکې په فعالیت پیل وکړ.

سرچینې ویلي چې نور خصوصي شرکتونه به هم وهڅول شي چې د هیواد ملي پارک واخان تر مخابراتي پوښښ لاندې راولي.

د سرحدونو وزارت دغه راز ویلي، چې له یادې سیمې څخه د چین تاریخي وربښمو لاره هم تیریږي چې د اسلامي امارت کابینې یې د جوړولو پریکړه تصویب کړې او دغه راز لوی پامیر ته په لومړي ځل د لارې جوړولو لپاره ثقیله ماشینري هم انتقال شوې ده.

## د عینو مېنې ښارګوټي د لاپراختیا په پار خبرې وشوې



دکندهار دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رییس الحاج مولوی فضل الباري فضلي د کندهار دسوداګرۍ خونې رییس حاجي صدیق مهمند، د کندهار ښاروال ملا حکمت الله اخند، د سوداګرو د ټولنې رییس شیرین آغا او د ټولنې چارواکو سره د خپل کار په دفتر کې د کتنې په ترخ کې پر بېلابېلو موضوعاتو خبرې اترې وکړې.په۵مخ

په۵مخ

## غورکې د غوزانو حاصلات زیات شوي

د غور د کرنې، مالدارۍ او اوبو لګونې ریاست مسولین وايي، چې د نباتاتو له بېلابېل ډولو ناروغیو سره سره دغه ولایت کې د تېر کال په پرتله د غوزانو حاصلات شل سلنه زیات شوي.د یاد ریاست رییس مولوي غلامحمد کاظم باختر اژانس سره په خبرو کې ویلي، چې تېر کال په دغه ولایت کې ۵۲۴ عشاریه ۸ ټنه غوزان راټول شوي وو او سږ کال دغه رقم ۶۵۶ ټنه دی، چې د تېر په پرتله ۲۰ سلنه زیاتوالی ښیي.د یادونې وړ ده، چې په وروستیو کې غور کې د بڼوالۍ کلتور مخ په پراخېدو دی او دا مهال د دغه ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې په ۲۱۲۰ هکتاره ځمکه بڼوالۍ کېږي.

## احتمال برف و بارندگی در ۱۳ ولایت کشور

اداره هواشناسی کشور از احتمال برفباری و بارندگی در ۱۳ ولایت کشور خبر داده استاداره هوا شناسی در خبرنامه یی گفته است: احتمال بارندگی امروز و فردا در ولایت‌های هرات، فراه، بادغیس، سرپل، بامیان، دایکندی، غور، هلمند، کندهار، ارزگان، زابل، غزنی و پکتیکا وجود دارد.بر اساس این خبرنامه؛ مقدار بارندگی در نقاط مختلف بین «۱۰ الی ۲۵» ملی متر و مقدار برف «۱۰ الی ۲۵» سانتی متر پیشبینی شده است.

## برپایی برنامه ی روش های زندگی با کتاب ومطالعه درتخار

برنامه یی تحت عنوان (روش های زندگی با کتاب و مطالعه) با حضور صدها جوان در تخار برگزار شد.درمحفلی که به همین منظور از سوی آمریت امور جوانان ریاست اطلاعات و فرهنگ تخار به همکاری آموزشگاه آرین با حضور مسوولان ونمایندگان ادارات حکومتی و آموزشگاه ها و بیشتر از ۱۰۰ تن جوانان برگزار شده بود، روی ارزش و اهمیت مطالعه و کتاب خوانی و تأثیر آن بالای زندگی جوانان صحبت شد.مولوی عین الدین مطمئن آمرامور جوانان ریاست اطلاعات وفرهنگ تخار، درسخنانی، مطالعه و کتاب خوانی را یکی از روش های موثر در امر بیداری جوانان از بی تفاوتی در برابر اهداف زندگی آنان خوانده و تأکید داشت که جوانان باید در زندگی شان اهدافِی را دنبال نمایند که ازیک سو باعث تغییر مثبت در سلوک و رفتار آنان شود و از سوی هم باعث پیشرفت خود و جامعه گردند.ذکرالله آرین مسوول آموزشگاه آرین در تخار، پیرامون اهمیت کتاب خوانی در راستای خودشناسی ص۵

ص۵

## د څه باندې ۱۸ میلیونه ډالرو په ارزښت هوکړه لیکونه لاسلیک شول

د کار او ټولنیزو چارو وزارت پرون د فني او حرفوي زده کړو او له یتیمانو څخه د ملاتړ په موخه له یوشمېر کورنیو موسسو سره د څه باندې ۱۸ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت هوکړه لیکونه لاسلیک کړل.د یاد وزارت مالي او اداري مرستیال مولوي دین محمد حقبین د یادو هوکړه لیکونو

امارت اسلامی افغانستان
وزارت کار و امور اجتماعی

د لاسلیکولو پر مهال وویل چې همکاري مؤسسې دي د بشري ټولنې د خدمت په موخه ورسپارل شوي مسؤلیتونه په ښه ډول ادا او په ځانګړې توګه دې جګړه ځپلیو ولایتونو ته پاملرنه وکړي.نوموړي ډاډ ورکړ، چې د کار او ټولنیزو چارو وزارت له دوی سره هر ډول همکاریو ته چمتو دی.۵مخ

۵مخ

## بامیانو کې د ترافیکي پېښې له امله ۸ تنه ټپیان شوي



د بامیانو د امنیې قومندانۍ مسوولین وايي، چې په دغه ولایت کې د یوې ترافیکي پېښې له کبله ۸ تنه ټپیان شوي دي.د بامیانو د امنیې قومندانۍ ویاند محمد خواني رسا د باختر آژانس خبریال ته وویل، چې د دغه ولایت په مرکز کې د دوو کرولا موټرو د ټکر په پایله کې ۸ تنه ټپیان شوي دي.هغه زیاته کړه، چې د پېښې ټپیان د یاد ولایت مرکزي۵مخ

۵مخ

## پنجاه لوحه غیرمعیاری از ساحه جاده نادر پشتون کابل برداشته شد

هیئت کمیسیون اصلاح لوحه ها و تابلو های اعلانات، امروز در جریان بررسی، ساحه جاده نادر پشتون شهر کابل، پنجاه لوحه غیر معیاری را از فروشگاه های این ساحه برداشتند. به گزارش آژانس باختر؛ به گفته این هیئت، قبل براین برای دکانداران و لوحه داران اطلاع داده شده بود که لوحه های غیر معیاری شان را اصلاح کنند.
در جریان این بررسی ها بیش از ۲۰۰ فروشگاه کنترول شد و به مالکان و نمایندگان مارکیت ها نیز تاکید شد که تمام لوحه ها، اشتهارات و تابلو های اعلانات شان را به زبان های ملی و مطابق به فرهنگ افغانی ترتیب کنند. هیئت کمیسیون اصلاح لوحه ها و تابلوص۵

ص۵

# رویدادهای خارجی

## اسرائیل د غزې په روانه جګړه کې لوړ قیمت پرې کوي



داسرائیلو د پوځ ویاند تازه له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، چې غزه کې د روانې جګړې پر مهال یې د ژوبلې کچه لوړه ده او دغه جګړه په لوړ قیمت سره پر مخ وړي.
د پوځ د ویاند د دغو۵مخ

۵مخ

## حمله ی تازه موشکی روسیه به اوکراین


ارتش روسیه بخش های از شهر دونتسک اوکراین را با موشک هدف قرار داد که منجر به کشته شدن دست کم ۱۱ نفر، از جمله پنج کودک شد.این در حالی به شهر ها و زیرساخت‌های اوکراین را افزایش داده اند.گفته شده است که روسیه در حملات دیروز خود از موشک های اس-۳۰۰ کار گرفته است.روسیه



است که اوکراین هفته گذشته شهر های مرزی روسیه را با پهپاد هدف قرار داد که تلفات انسانی در پی داشت، مقام های روسیه هشدار به انتقام گیری دادند و در روزهای اخیر حملات پیشتر بخشی از منطقه دونتسک را تصرف کرد و فیلاشکین شهر دار این شهر می‌گوید که حملات روز گذشته نشان می‌دهد روسیه در تلاش برای پیشروی بیشتر به خاک اوکراین است.

## د العاروري ترور غزه کې د اسیرانو د تبادلې لارې سختې کړې دي

د قطر لومړي وزیر او د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر محمد بن عبدالرحمن ال ثاني دوحه کې د صهیونستي اسیرانو له کورنیو سره په لیدنه کې ویلي، چې د لبنان په بیروت کې د حماس غورځنګ د مرستیال صالح العاروري ترور د اسیرانو د تبادلې لارې چارې سختې کړې دي. اوس مهال یوشمېر اسرایلي اسیران، چې صهیونستي پوځیان هم په کې شامل دي، د حماس او نورو فلسطیني ډلو په بند کې شپې او ورځې تېروي. ورته وخت کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلینکن منځنۍ ختیځ ته د سفر پر مهال پرون قطر ته ځي او د ځینو رسنیو د راپورونو په حواله چې نوموړی ترکیې او اردن ته تر سفر وروسته دوحې ته رسېدلی دی.دغه امریکایي ډیپلومات په داسې مهال سیمې ته سفر کوي، چې سره بحیره کې د حوثي وسلوالو له لوري پر امریکایي پوځي او نورو هغو کښتیو چې اسرایلو ته سفر کوي، بریدونه زیات شوي او واشنګټن هڅه کوي، د یمن د دغې وسلوالې ډلې پر وړاندې عربي ملګري پیدا کړي.




توجه !
ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!